Pashto

# څه ډول د خپل ماشوم له ښوونکي او ښوونځي سره اړیکه ټینګه کړئ

د نوي راغلي کورنۍ لپاره لارښود

کله چې والدین، سرپرستان، کورنۍ او ښوونکي یو له بل سره اړیکه ټینګوي، نو په دې صورت کې ماشومان په ښوونځي کې ډېر بریالي وي.

دا اړیکې کیدای شي په لیکلي بڼه، د ټیلیفون یا برېښنالیک له لارې یا په حضوري ډول ترسره شي.

کله چې تاسو د خپل ماشوم له ښوونکي سره خبرې کوئ نو د هغه (ې) له ښوونکي سره مرسته کوئ تر څو ستاسو د ماشوم په اړه لا زیات معلومات ترلاسه کړي. همداراز ښوونکی کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي تر څو پوه شئ چې ماشوم مو په ښوونځي کې څنګه دی.

دا لارښود تاسو ته په دې اړه لا زیات معلومات درکوي چې څه ډول ستاسو د ماشوم ښوونکی او ښوونځي له تاسو سره اړیکه ټینګوي او تاسو څه ډول کولای شئ له دوی سره اړیکه ټینګه کړئ.

## که چېرې ستاسو ماشوم له ښوونځي وړاندې دوره کې وي

د ماشومتوب دورې ښوونکی (ECE) د خپل ځان د معرفي کولو او د اړیکې د معلوماتو (برېښنالیک او د ټیلیفون شمېره) د وړاندې کولو په موخه ستاسو سره اړیکه نیسي یا برېښنالیک استوي. همداراز هغوی له تاسو څخه پوښتنه کوي چې څه ډول غواړئ له تاسو سره اړیکه ونیول شي. تاسو کولای شئ انتخاب کړئ چې له تاسو سره اړیکه ونیسي یا برېښنالیک واستوي. همداراز تاسو کولای شئ دوی ته ووایئ چې شفاهي ژباړن ته اړتیا لرئ.

## که چېرې ستاسو ماشوم له لومړني څخه تر 12 ټولګي پورې وي

کله چې ښوونځی یا ښوونکی ستاسو لپاره معلومات ولري، معمولاً هغه تاسو ته په لیکلي بڼه استوی.

کیدای شي تاسو یوه خبرپاڼه، لیک یا نورې پاڼې (فورمې، دا جازې پاڼې او داسې نور) ترلاسه کړئ. همداراز کیدای شي معلومات د برېښنالیک له لارې شریک شي یا د ښوونځي په ویب پاڼه کې خپاره شي.

دا معلومات کیدای شي یوه عمومي خبرتیا، د ښوونځي د یوه محفل په اړه معلومات یا د یوې فورمې په څېر د لاسلیک کولو لپاره د اجازې فورمه وي، تر څو ستاسو ماشوم وکولای شي علمي سفر ته ولاړ وشي.

**په دې ځای کې یو شمېر لارې چارې شته دي چې په مرسته یې تاسو کولای شئ داډ ترلاسه کړئ چې د ښوونځي له لوري هیڅ ډول معلومات له لاسه ورنه کړئ.**

- خپل ماشوم ته په یاد وروړئ چې ټول هغه معلومات تاسو ته درکړي چې ښوونځی یې تاسو ته استوي.
- د خپل ماشوم د ښوونځي په بکس کې لیکونه یا د ښوونځي له لوري نورې خبرتیاوې وپلټئ.
- په خپل کور کې د ښوونځي د خبرتیاوو لپاره یو ځای جوړ کړئ. خپل ماشوم ته ووایئ چې د ښوونځي خبرتیاوې په دې ځای کې کېږدي.
- د ښوونځي له لوري د پیغامونو لپاره خپل برېښنالیک وګورئ.
- د نویو معلوماتو لپاره د ښوونځي ویب پاڼه وګورئ.
- له ښوونځي څخه وغواړئ چې د معلوماتو د لرلو په صورت کې ستاسو سره اړیکه ونیسي یا برېښنالیک واستوي.

## که چېرې تاسو مرستې ته اړتیا لرئ

**تاسو کولای شئ د لاندې کسانو له ډلې څخه له یوه سره اړیکه ونیسي یا برېښنالیک واستوئ:**

- ستاسو د ماشوم ښوونکی یا د ماشومتوب دورې ښوونکی (ECE)
- د والدینو لارښود
- د اضافي ژبې په توګه د انګلیسي یا فرانسوي ښوونکی
- د ښوونځي سلاکار
- د ښوونځي دفتر
- د SchoolsPlus ښوونکی
- د YMCA ښوونځي د مېشتېدنې برخې یا د YREACH کار کوونکی
- د کډوالی د فرانکوفون کار کوونکي

## که چېرې تاسو غواړئ چې له ښوونځي یا ښوونکي/ECE سره خبرې وکړئ

کیدای شي ځیني وخت تاسو داسې معلومات ولرئ چې باید د خپل ماشوم له ښوونځي یا ښوونکي/ECE سره یې شریک کړئ. یا کیدای شي تاسو یوه پوښتنه ولرئ چې باید ویې کړئ په دې ځای کې هغه لارې چارې ذکر شوې دي چې کولای شئ دوی ته لاسرسی ولرئ:

- له ښوونځي یا ښوونکي/ECE سره اړیکه ونیسئ. که چېرې تاسو اړ یاست چې یو پیغام واستوئ، نو ډاډ ترلاسه کړئ چې خپل بشپړ نوم، د ټلیفون شمېره، د خپل ماشوم بشپړ نوم او له تاسو سره د بېرته اړیکې نیولو په موخه د دوی لپاره غوره وخت ووایئ.
- ښوونځي یا ښوونکي/ECE ته برېښنالیک واستوئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې خپل او د خپل ماشوم بشپړ نوم ولیکئ.

## که چېرې تاسو له ښوونځي یا ښوونکي/ECE سره د خبرو کولو په برخه کې مرستې ته اړتیا لرئ

- د یوه شفاهي ژباړن غوښتنه وکړئ.
- د YMCA د ښوونځي د مېشتېدنې برخې/د YREACH کار کوونکي یا د کډوالی د فرانکوفون له کار کوونکي څخه وغواړئ چې له تاسو سره مرسته وکړي.

## عمومي ناستې

ډېری له ښوونځي وړاندې دورې او ښوونځي د والدینو او سرپرستانو لپاره د ښوونیز کال په پیل یا د عالي لېسې د نوي سمسټر په پیل کې یو عمومي محفل نیسي. کیدای شي ښوونځی دا "د درسي نصاب شپه"، "له ښوونکي سره د لیدنې شپه" یا د "پرانیستې کور" په نوم ونوموي.

په دې محفلونو کې، تاسو کولای شئ د ښوونځي له کسانو لکه، ECE یا ستاسو د ماشوم د ښوونکي، د ښوونځي مدیریت او نورو کسانو سره ووینئ. همداراز تاسو کولای شئ د خپل ماشوم د ښوونځي د پروګرام په اړه معلومات ترلاسه کړئ، په ښوونځي کې قدم ووهئ او د هغه څه په اړه لا زیات معلومات ترلاسه کړئ چې د ښوونځي د ورځې په لړ کې پېښیږي.

که چېرې تاسو اړتیا لرئ چې په ښوونځي کې د خپل ماشوم له ښوونکي یا ECE سره د خپل ماشوم د حالت په اړه خبرې وکړئ یا کومې اندېښنې لرئ، د لیدنې د تنظیمولو لپاره ښوونکي/ECE ته برېښنالیک واستوئ یا اړیکه ونیسئ.

## له ECE یا ښوونکي سره ناستې

که چېرې ستاسو ماشوم له **ښوونځي وړاندې**دوره کې وي، ECE به ستاسو سره یوه لیدنه برابره کړي تر څو د خپل ماشوم د زده کړې د څرنګوالي په اړه خبرې وکړئ. کیدای شي دا ناسته د ټلیفون، برېښنالیک یا آنلاین ناستې (لکه زوم (Zoom)) له لارې ترسره شي.

که چېرې ستاسو ماشوم له **لومړني څخه تر 12 ټولګي** پورې زده کړې کوي، تاسو ته به د ټلیفون، مجازي یا حضوري ناستې له لارې د والدینو او ښوونکو ناستې ته بلنه درکړل شي. دا ناستې په کال کې دوه ځلې ترسره کېږي. تاسو کولای شئ نېټې د ښوونځي په کالیزه کې ومومئ. معلومات له هغې ډلې د لیدنې د ریزرف کولو څرنګوالی هم ستاسو د ماشوم سره ښوونځي ته استول کېږي یا تاسو ته برېښنالیک استول کېږي.

دا ناستې تاسو ته دا چانس درکوي تر څو د خپل ماشوم له ښوونکي سره خبرې وکړئ. تاسو کولای شئ په ښوونځي کې د خپل ماشوم د پرمختګ، د خپل ماشوم د راپور کارت او هر ډول اندیښنو په اړه چې کیدای شي تاسو یا ښوونکی یې ستاسو د ماشوم د حالت په اړه ولري او دا چې ستاسو ماشوم څه ډول ملاتړ ته اړتیا لري، خبرې وکړئ.

### څه ډول د والدینو- ښوونکي د ناستې لپاره چمتوالی ونیسو

- له ناستې وړاندې له خپل ماشوم سره خبرې وکړئ تر څو پوه شئ چې ښوونکی په ښوونځي کې څه شی خوښوي او د هغه لپاره څه شی ستونزمن دي.
- د هغو پوښتنو، اندیښنو یا معلوماتو په اړه فکر وکړئ چې تاسو غواړئ له ښوونکي څخه یې وپوښتئ. دا موارد ولیکئ تر څو له یاده مو ونه وځي.
- همداراز که چېرې تاسو په انګلیسي یا فرانسوي باندې نه پوهېږئ، کولای شئ د یوه ژباړن غوښتنه وکړئ. د YMCA ښوونځي د هوکړه لیک برخې یا د YREACH د کار کوونکو یا د فرانکفون د کېوالی له کار کوونکو څخه پوښتنه وکړئ. همداراز کیدای شي ښوونځی په کار کوونکو کې یو داسې څوک ولري چې ستاسو په ژبه باندې خبرې کوي. له ښوونځي څخه له وړاندې د دې مرستې غوښتنه وکړئ. همداراز تاسو کولای شئ خپل ماشوم له ځان سره یوسئ.
- ښوونځي ته له خپلې ناستې 5 دقیقې وړاندې ولاړ شئ.
- له ناستې وروسته له خپل ماشوم سره خبرې وکړئ. د هغو ښو مواردو په اړه چې تاسو او ښوونکي د هغوی په اړه خبرې کړې دي او همداراز خپلې یا د ښوونکي د هر ډول اندیښنو په اړه دوی ته ووایئ. د هر هغه پلان په اړه تشریحات وړاندې کړئ چې تاسو یا ښوونکي دې اندیښنو ته د رسېدنې په موخه جوړ کړی دی.
- له ناستې وروسته له خپل ماشوم سره په اړیکه کې اوسئ، حتی هغه وخت چې هر څه په ښه ډول پرمخ روان وي.

**دلته یو شمېر هغه پوښتنې ذکر شوې دي چې کیدای شي تاسو یې د خپل ماشوم له ښوونکي څخه وپوښتئ:**

- زما ماشوم څه ډول له ښوونځي سره ځان ته سمون ورکوي؟
- زما د ماشوم پرمختګ په (موضوع) کې څه ډول دی؟

- آیا زما ماشوم په هره موضوع کې اضافي ملاتړ ترلاسه کوي؟
- زما ماشوم څه ډول ملاتړ ترلاسه کوي؟
- زه څه ډول کولای شم له خپل ماشوم سره په کور کې مرسته وکړم؟
- زما ماشوم څه ډول له نورو زده کوونکو سره چلند کوي یا له دوی سره تعامل لري؟

## د PowerSchool د زده کوونکي او والدینو پورټل

PowerSchool د زده کوونکي یو معلوماتي سیستم دی چې د زده کوونکي معلومات لکه، دیموګرافي، سوبتیا او ناسوبتیا، چلند، لاسته راوړنې او مهالویشونه په الکترونیکي ډول مدیریت کوي. زده کوونکي او والدین/سرپرستان دواړه کولای شي د زده کوونکي-والدینو PowerSchool پورټل ته په ننوتلو سره معلوماتو ته لاسرسی ومومي. د خپل ماشوم په ښوونځي کې د ښوونځي له مدیریت څخه وغواړئ چې تاسو ته کارند نوم او پاسورډ درکړي.

**د زده کوونکي-والدینو پورټل به پر وخت تاسو ته د خپل ماشوم په اړه معلومات درکړي:**

- سوبتیا
- ټولګي/نمرې
- دندې
- د ښوونکي نظریات
- د ښوونځي خبرتیاوې

تاسو کولای شئ د پورټل په اړه لا زیات معلومات په ویب سایټ کې د "زده کوونکو او والدینو" په برخه کې ومومئ: [زده کوونکي او والدین | زده کړې او د ماشومتوب لومړۍ دورې پرمختګ (ednet.ns.ca)].

## ستاسو معلومات محرم ساتل کیږي

ستاسو د ماشوم ښوونکی/ECE به ستاسو د ماشوم د تجربې، د ښوونځي د کار یا کورنی حالت په اړه له نورو کورنیو یا د ټولنې له غړو سره شریک نه کړي. کیدای شي ښوونکی د ښوونځي له نورو کار کوونکو سره سلا مشوره وکړي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې ستاسو ماشوم غوره ملاتړ ترلاسه کوي. دا به هم محرم وساتل شي. که چېرې ښوونکی اړ وي چې ستاسو له ماشوم څخه د ملاتړ ترسره کولو لپاره له ښوونځي څخه بهر بلې اداري ته مراجعه وکړي، نو له تاسو څخه به وغواړي چې د رضایت فورمه لاسلیک کړئ.

د قانون پر بنسټ، ښوونکي مکلف دي چې په لاندې مواردو کې د پولیسو په څېر د ټولنیزو خدمتونو همکارانو ته راپور ورکړي:

- که چېرې یوه ماشوم له خطر سره مخ وي یا یو بل چا یا خپل ځانته خطر رسوی
- که چېرې ښوونکی شکمن وي یا خبر وي چې ماشوم ځورول کیږي یا یې پر وړاندې ناغیرې کیږي
- که چېرې محکمه حکم وکړي چې ښوونکی باید راپور ورکړي
- که چېرې ماشوم له ښوونکي څخه وغواړي چې راپور ورکړي
- که چیرې له ښوونکي څخه وغوښتل شي چې د *معلوماتو د خوندیتوب د آزادۍ د محرمیت قانون له لارې راپور ورکړي*

## د اړیکي معلومات

د لا زیاتو معلوماتو لپاره د زده کړو له سیمه ییز مرکز (RCE) یا Conseil scolaire acadien provincial (CSAP) سره اړیکه ونیسئ.

- **د Annapolis Valley د زده کړو سیمه ییز مرکز** (AVRCE)
- **د Cape Breton-Victoria د زده کړو سیمه ییز مرکز** (CBVRCE)
- **د Chignecto-Central د زده کړو سیمه ییز مرکز** (CCRCE)
- **Conseil scolaire acadien provincial** (CSAP)
- **د Halifax Regional د زده کړو سیمه ییز مرکز** (HRCE)
- **د South Shore د زده کړو سیمه ییز مرکز** (SSRCE)
- **د Strait د زده کړو سیمه ییز مرکز** (SRCE)
- **د Tri-County د زده کړو سیمه ییز مرکز** (TCRCE)
- **SchoolsPlus** یو شمیر خدمتونه او ملاتړ چمتو کوي او د Nova Scotia په هر ښوونځي کې د لاسرسي وړ دی

په خپله ټولنه کې د ملاتړ لپاره، اړیکه ونیسئ:

- **د YMCA ښوونځی د مېشتېدو برخه** – د Halifax په سیمه ییز ښاروالی کې د لاسرسي وړ ده (HRM)
- **YREACH** – د ولایت په کچه د لاسرسي وړ دی (له HRM بهر)
- **د کډوالۍ فرانکوفون** – ستاسو د ټولنیزې مېشتېدنې د کار کوونکي له لارې د لاسرسي وړ دی

20231101